احسان الله آرینزی ۲۰۱۴/۱۱/۱۴

# د افغانانو د ډوبېدو بدمرغه لړۍ

هغه وخت چې شوروی اتحاد او ختیځ بلاک به واک کې وو، ځینو خلکو او په تېره بیا ځوانانو دا هیله درلوده چې یو ځلې لویدیځ ته لاړ شي، یا وتښتي هلته سیاسي پناه واخلي.
یو وخت په ختیځه جرمني کې د څلورو ځوانانو داسې ډله نوموتې شوه چې د (چتر)په واسطه به الوتل. دوی به د باد له لوري سره سم، له یوې جګې ودانې یا غره څخه ځانونه وغورځول، د چتر په واسطه به زر- دوه زره متره والوتل او بیا به ورو په یوه مناسب ځای کې ځمکې ته ښکته شول.

په ۱۹۸۷ کال کې دې ځوانانو د ختیځې جرمني په بېلابېلو ښارونو او سیمو کې دالوتلو ننداري جوړې کړې او په پای کې یې داسې یو وخت او ځای وټاکه چې د لویدیځې جرمني پولې ته نژدې و او باد له ختیځ څخه لویدیځ ته الوت.
په ټاکني ورځ دا ځوانان په داسې حال کې چې په زرګونو خلک ننداري ته ولاړ وو، د خپلو دوو چترونو په واسطه له ختیځ څخه لویدیځ ته واوښتل او په تأریخ کې یې د هوا له لارې د تېښتې ریکارډ ثبت کړ!

په هغه ورځو کې لویدیځو رسنیو ولیکل چې څلور ځوانان له ختیځ جنت څخه لویدیځ دوزخ ته وتښتېدل! او دا ځکه چې شوروي بلاک او د ختیځې جرمني رسنیو د (لویدیځ)دومره بد ویلي وو چې دوزخ غوندې ښکارېده!

له دې پېښې څخه څو کاله وروسته شوروی اتحاد او سوسیالیستي بلاک رنګ شول، د برلین نامتو دیوال له منځه لاړ چې دا ده په دې اونۍ کې یې د نړېدو پنځه ویشتمه کلیزه په ډېره پرتمینه توګه ولمانځل شوه. جرمني یو هېواد شو او د پخواني سوسیالیستي بلاک هېوادونو دومره پرمختګ وکړ چې که ځیني ځوانان د کار په تمه او قانوني لویدیځ ته ځي، ځي به؛ خو نور د تېښتې سوال نه پیدا کېږي او هر څوک په خپل ځای کې خوشاله دی.

په افغانستان کې له بده مرغه پنځه دېرش کلني جګړې، په ملیونونو خلک دې ته اړکړل چې خپل خواره کلي او کورونه پرېږدي او نورو هیوادونو ته لاړ شي.

که سوریه په حساب کې نه راولو، افغانستان په تېرو دېرشو کلونو کې هغه هېواد دی چې په نړۍ کې تر ټولو ډېر یا په ملیونونو مهاجر او په لکونو کورني بېځایه شوي خلک لري.

کله چې په کال ۲۰۰۲ کې امریکا او ملګرو هېوادونو افغانستان ته پوځونه واستولاو د (بن) د غونډې له لارې یې افغانستان ته نوې اداره جوړه کړه او د بلیونونو ډالرو مرستې پیل شوې، داسې اټکل کېده چې نور به افغانان د خپل هېواد پرېښودو ته نه اړ کېږي او په پخوانیو خونړیو ټپونو به ملهم کېښودل شي!

اوس له هغه وخته دیارلس کاله تېر شول او حالت داسې په مخ لاړ چې ډېر خلک له څکک څخه پاڅېدل او ناوې ته کېناستل!

د غیر مسلکي، نامتعهد، کاواکه، بلواکه او مصلحتي مشرتابه له لاسه ځیني خلک د نفر په سر دېرش زره ډالر قاچاقبر ته ورکوي چې له دې هېواد څخه یې صحیح او سلامت وباسي او لویدیځ ته یې ورسوي!

څو ورځې مخکې داسې یو زړه بوږنونکی خبر خپور شو چې د ترکیې په تور سمندرګیکې، د مهاجرو افغانانو یوه بېړۍ ډوبه شوه او بیا ګڼې کورنۍ د غم په ټغرکېناستې!

په داسې یو هېواد کې چې مولوي په جومات کې د خپل هغه مقتدي په کمکي لور جنسي تېری کوي چې ده به یې لس – شل ځلې ډوډۍ خوړلې وي، خلک بې له تېښتې بله لار نه لري!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په داسې یو هېواد کې چې د دارالقضاة متولیان، چې د عدل اصلي مرکز باله شي، د خلکو ځمکې، جایدادونه او حتی نکاحې ښځې، د زور او زر خدای ګوتو ته حواله کوي،ډېر خلک د ټیګېدو وس نه لري او تښتي!

البته کېدای شي چې ځینې به د هوس او ښه ژوند په تمه هم لویدیځ ته روان وي چې دا بېله خبره ده!

د ترکیې د تور سمندرګی د بېړۍ لست وایي چې دوه درې کورنۍ په بشپړه توګه د ژوند له پاڼې محوه شوې. پلار، مور او ګلالي بچیان ټول د کبانو او نهنګانوخوراک شول! په ځینو کورنیو کې بیا پنځه مړه، دوه ورک او یو ژوندی دی چې دریغی نه وای پاته؛ ځکه په لویدیځ کې به د دې تش په نامه ژوندي ژوند څه وي؟

له دې مخکې هم په سلګونو افغانان د استرالیا او اندونیزیا په اوبو کې ډوبشوي دي!

په کور د ننه خو هغه دي بمونه غورځي، بې پېلوټه الوتکې عملیات کوي، ماینونهاو بمونه چوي، باړونه چلېږي، په زرګونو کلاشنکوفونه په ډزو لګیا دي، (مردار)انتحاري یا (شهید) استشهادي ځانونه وژني، په نیم وطن د وینو باران دی؛ اداریاو اخلاقي فساد اوج ته رسېدلی، غله ملیونر سرې سترګې ګرځی؛ نو څوک دلته وژلکېږي او څوک په تور سمندرګي کې کبانو ته په لاس ورځي.

لکه چې د خلکو په مجالسو کې ویل کېږي اوس خو د پخواني ولسمشر د کنو او ړندودوره پای ته رسېدلې او نوې اداره د جوړېدو په حال کې ده.

ولسمشر محمد اشرف غني دې فکر وکړي چې که د ده په کور هم بمونه وغورځي او یاد فاسد قاضي له بې عدالتي سره مخامخ شي؛ نو د هېواد پرېښودو ته نه اړ کېږي او بیا دې فکر وکړي چې که د ده او رولاغني ګران او لادونه په تور سمندرګي کې ډوب شوي وای، ده به څه حال درلود؟

خلک وایي چې ځمکه هغه سوځي چې اور پرې بل وی. ولسمشر دې یقین وکړي چې له نیم څخه په ډېر وطن اور بل دی او دا (مور) هره ورځ د خپلو بچیانو په وېر کېساندې وایي!

ولسمشر دې په دې باندې فکر وکړي چې خلک ولې د وطن پرېښودو او تېښتې ته اړکېږي؟ او لړۍ به تر کومه روانه وي؟

خلک په زیار ګټلې پیسې قاچاقبر ته ورکوي چې له دې دوزخ څخه یې وباسي؛ خو ډېر داسې کسان د استرالیا، اندونیزیا او ترکیې په اوبو کې ډوب شوي چې د ښه او سوکاله ژوند په تمه له هېواد څخه وتلي دي!

اوس هغه وخت راغلی چې ولسمشر محمد اشرف غني او نوې جوړېدونکې اداره باید په دې اړه یو علمي کنفرانس جوړ کړي چې خلک ولې د افغانستان له اسلامي هېواد څخه د نړۍ کفري هېوادونو ته تښتي؟

دا کومې جدي ستونزې دي چې له امله یې خلک خپل خوږ هېواد پرېږدي او نورو هېوادونو ته ځي!

که داسې یوه علمي څېړنه ونه شي، د خلکو د تېښتې په عواملو بحثونه ونه شي او حل لارې ونه موندل شي، د تور سمندرګي کبان به په کلونو- کلونو نور هم د افغانانو غوښې خوري او ګناه به یې په هغه تش په نامه چارواکو پسې لیکل کېږي چې په تصادفي توګه او د پردیو په لاس واک ته رسېدلي او هېواد یې خلکو ته په دوزخ بدل کړی دی!

پای

---

د پاڼو شمیره: له ۲ تر ۲

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ